# په افغانستان کښې
# د جمهوریت سایه داره او مېوه داره ونه

خان زمان کاکړ

په افغانستان کښې صدارتي انتخابات په کامیابۍ او ارامۍ سره پائے ته ورسېدل. هر افغان د خپل ضمیر د فېصلې لاندې خپله رایه استعمال کړه. خلق به په دې لړ کښې د کاندیدانو د کامیابۍ د نتیجې په تمه وو خو مونږ په افغانستان کښې د جمهوري عمل کامیابۍ ته متوجه وو. د اساسي نوعیت خبره هم دا ده، چې جمهوریت، عدم تشدد او ملي روغې جوړې د افغانستان انتخابات وګټل. زمونږ لپاره د هم دې ګټې حېثیت مقدس دے. حامد کرزي، عبدالله عبد الله، اشرف غني احمد زي، رمضان بشر دوست او هر یوه کاندید ځان افغان ګڼلو، پر جمهوري او پارلیماني سستم ئې یقین درلود، سیاسي عمل ته ئې وده ورکول غوښتو او د جنګ و جنون په ضد ئې د امن او ورورولۍ کلتور پیاوړے کول مرام وو. ټول په انتخابي عمل کښې په مېډیا له یو او بل سره بحث و مکالمې ته حاضر شول، د یو او بل پګړۍ ئې ونۀ غورځولې بلکې د یو او بل احترام ئې وکړو. په هم دې توګه ئې ثابته کړه، چې افغانان په سینو کښې د برداشت او زغم څومره پراخه جمهوري ماده لري.

په افغانستان کښې جمهوري عمل په چټکۍ سره مخ په وړاندې روان دے. په ډېره لږ موده کښې افغانانو د جهوریت په حواله ډېرې زیاتې لاس ته راوړنې ولرلې. د پاکستان په مقابله کښې د افغانستان جمهوري سېټ اپ په څو چنده پیاوړے ثابت شو. افغانستان دېرش کاله جنګ و جنون



زغملے ؤ. سیاسي وضعیت ئې د انتشار او اضطراب ښکار ؤ، سیاسي اداري نۀ وې، انفراسټرکچر وران ؤ، د اقتصاد ملا ماته او ملي اردو نۀ وه. خو له دې باوجود چې کله د بُن د کنفرانس په رڼا کښې نسبي سوله تامین شوه او نسبي ډیموکراټیکه فضا رامنځته شوه نو افغانانو د دېرش کلن جنګ و جدل د تجربې له مخې له دې نه بشپړه ګټه پورته کړه او دنیا ته ئې دا ثابته کړه چې افغانان په جمهوري رویو زرخیز زړونه او ذهنونه لري. د

افغانانو په وطن کښې د ټوپکونو بدمستۍ پردې وې. جنګونه د خپلو ټولو تباه کاريو باوجود د پوهنيزو ادارو حېثيت لري، سياسي شعور پخوي او د ژوند تورې او تاريکې لارې روښانوي. افغانان د دېرش کلنې جګړې په تجربه نن د خپل ژوند د پرمختبولو راز په خپله خاوره کښې ګوري او پوهېږي چې خپل ناسم کله هم په پردو نۀ سمېږي. کوم کار چې د بهرنيو ذهنيتونو په موخه د ټوپک په مرسته په وطن کښې تر سره کېدو، هغه کار د ملي ذهنيت له مخې پر يو راؤنډ ټېبل د بحث و مکالمې له لارې په ښوچنده مهذبه طريقه تر سره کېدے شي. په تاريخي حواله د افغانستان خاوره د جرګو او مرکو په کلچر زرخيزه وه، دښمن پکښې د هيروئنو، بارودو او کوکنارو تخم وپاشلو، وطن قبرونه شنۀ کړل، د قبرونو جنډې جګې شوې. ژوند په مقتلونو کښې ودان شو. د مقتلونو ضابطې امرانه او افسرشاهانه وې، لمحه لمحه ئې د افغان د جمهوري رويو او رواياتو قتل عام کولو. د کابل پر تخت هغه عسکري ذهنيت واکمنۍ ترتيبولې، چې په پاکستان کښې د خپلې شپېتۀ کلنې واکمنۍ پر مهال زښت پياوړے شوے ؤ. افغانانو د جنګونو او مهاجرتونو نه ډېر څۀ زده کړي دي. هغوي په دنيا کښې مختلف سياسي سستمونه له نيژدې نه ليدلي او په ځيرکتيا ئې مطالعه کړې دي. هغوي د ګولۍ د طاقت نتيجه هم ليدلې ده او د ووټ د طاقت نتيجه هم. هغوي پوهېږي چې په جديده دنيا کښې د چا داستقلال د خوندي ساتلو او پرمختګ لارې څۀ دي؟ د تېرو درېو لسيزو جنګي صورتحال افغانستان له يو لوئے خطر سره مخامخ کړے ؤ او بې ساري زيانونه وراوښتي وو. جنګونو د دې جبران ونۀ کړے شو بلکې دا زخم ئې نور هم خور کړو. هم دا وه چې افغانانو درک کړه چې ملي نجات يواځې په جمهوري کلچر کښې ممکن ګرځېدے شي او هم له دې لارې د خپل استقلال دفاع، د اوښتو زيانونو تلافي او د بيا جوړوني او ترقۍ عمل ته وده ورکول کېدے شي.

کلونه کلونه له يو او بل سره جنګېدونکي افغانان اخر له يو بل سره شريک او پُر امن ژوند ته چمتو شول، زاړه نکلونه ئې هېر کړل، پر زړو قيصو ئې خاورې واړولې، پر جنګونو ئې لعنت ووايه او د امن او ملي پخلاينې لاره ئې خپله کړه.

د افغانانو سياسي ادارې لا د تشکيل نو په پړاؤ کښې دي، خو د هغوي د سياسي او ملي شعور په وجه د افغانستان پارليماني سېټ اپ له هغو ټولو ځانګړونو برخمن دے، کوم چې د يو دېرپا او پائيدار جمهوريت لپاره لازمي ګڼل کېږي.

ښځې کوم مقام ټاکل شوې وو، هغه اوس د عصري بدلون په رڼا کښې بدل شوے دے. د افغانستان په جمهوري عمل کښې ښځې يوه پراخه ونډه لري. هم دا د افغانستان د پارليماني سستم يوه لويه کاميابي ده. په اوسني عصر کښې د ښځو د برخې نه بغېر جمهوريت بې روحه او بې ارزښته ګڼل



کېږي. هم دا د جمهوریت اصل دے، چې پکښې بغېر د جنسي او صنفي امتیاز نه هر انسان د خپلې رائې د اظهار قابل ګرځي. د ښځو مسایل او حقوق ښځینه استازې په ښه توګه درک کولے شي، د افغانستان اوسني پارلیماني سستم ښځو ته د سیاست یو پراخ ډګر په لاس ورکړے دے، هغوي هر ډول سیاسي فعالیتونه تر سره کولے شي، په بحثونو او مناظرو کښې برخه اخیستلے شي او د خپل هر ډول کمټمنټ اظهار برملا کولے شي.

د بیان ازادي د جمهوري او پارلیماني سستم بنیاد پامول کېږي، سنسر شپ د امریتونو او استبدادونو پېداوار وي. په افغانستان کښې د بیان ازادي په مکمل ډول موجوده ده. په اوسني انتخابي campaign کښې هر چا د خپلې رائې اظهار په پوره جرات سره وکړو، د پرنټ او الیکټرانک مېډیا غیر جانبدارانه او مهذب صحافت او بې دربغه تجزئې او تبصرې د ستاینې وړ دي. په پاکستان کښې چې کله د انتخاباتو وخت رانیژدې کېږي، نو مېډیا په خپل جانبدار شکل کښې راځرګنده شي او د یو فریق حثیت خپل کړي. د پاکستان مېډیا د هغه چا ده، چې د عوامي حمایت په ځائے مضبوط استخباراتي او سرمایه



دارانه پوزیشن لري. د پاکستان مېډیا د یو مخصوص سکول آف تهاټ د نېغو کړښو بندیوانه ده.

زما لپاره د افغانستان په اوسنیو انتخاباتو کښې تر ټولو ښه خبره دا وه، چې دانشوره او ادبي طبقه دا ځل غیر جانبدار او د سیاسي عمل نه لرې پاتې نۀ شوه بلکې په انتخابي campaign کښې ئې حصه واخیسته او په ځرګنده ئې د خپلو امېدوارانو حمایت اعلان کړو. له عبدالباري جهاني او سعدالدین شپون نه نیولې تر عبدالمحمد محمدیار پورې هر چا په اوسنیو انتخاباتو کښې خپل کردار تر سره کړو او د خپلو امېدوارانو په حق کښې ئې په تحریري او هم عملي توګه خپل موقف تر خلقو ورساوۀ. دا د افغانستان د مسقبل د ټاکلو پړاؤ وو، دوي پر دې پړاؤ ثابته کړه، چې د افغانستان ادب او فرهنګ په سیاسي عمل کښې خپل contribution لري، د خپلو خلقو سره وابستګي لري ، دا روان جمهوري عمل خپل ګڼي او د خپل وران افغانستان د بیا ودانولو ضامن ئې ګڼي. دوي دا هم ثابته کړه، چې ادب او صحافت تش په جنګونو کښې کردار نۀ لري بلکې په امن، جمهوریت او پارلیمان کښې هم خپل لوئے کردار تر سره کولے شي.

طالب جنګیالیو ددې انتخاباتو د مخنیوي اعلان کړے وو او هم دا د افغانستان د دښمنانو هیله وه، چې باید د طالبانو پلان عملي شي، دا انتخابات بې ارزښته، د امریکې او پردي ثابت کړي. د پاکستان مېډیا او ځینو استخباراتي سیاسي ګوندونو هم په دې حقله پراخه پروپېګنډه وکړه. خو د دوي دا ناولي او شوم سازشونه هغه

وخت په خاورو ولړل شول، چې افغانان په یوه لویه جذبه او مقصد پولنګ سټېشنونو ته د خپلې رائې ورکولو له روان وو، افغان سوله ساتو ملي عسکرو او افغانانو د تعاونِ باهمي تحت په شریکه امن و امان کنټرولاوۀ. یو لوئې turnout د افغانانو پر ملي او جمهوري رویو د ثبوت مهر ثبت کړو. د روانې ډیموکراټیکې پروسې په سبب په افغاني ټولنه کښې د مذهبي انتهاءپسندۍ د نور قیام ګنجایش ببخي کم پاتې دے او ژور نظر لرونکې پوهېږي چې په افغانستان کښې نور جنګي عناصر کوم ځائے او مستقبل نه شي لرلے. په ballot box کښې د افغانانو هر ووټ د bullet خلاف ووټ وو، مهمه خبره دا نۀ وه چې افغانانو کوم کاندید ته رایه ورکړه، مهمه دا وه چې افغانانو د جنګ او جارحیت په ضد امن او جمهوریت ته رایه ورکړه. دې رائې ټولې دنیا ته پېغام ورکړو، چې مونږ له جنګه ستړې یو، جنګونو زمونږ نسلونه خوړلي دي، تاریخ، کلتور او ژواک ئې راله وهلے دے، اوږده مهاجرتونه ئې راپیرزو کړي دي، خاوره او جغرافیه ئې رابدرنګه کړې او هدیرې ئې راله پراخې کړې دي. مونږ امن غواړو، د امن خلق یو، د خپل وطن د واک



واګې پخپله نیولے شو، مونږ په خپل وطن کښې د اقتدار په سوله ایز انتقال پوهېږو، مونږ د پارلیمان روح او د جمهوریت د میوې خوند پېژنو. څوک ګاونډي دي مونږ ته د سیاست درس نۀ راکوي، زمونږ د جمهوریت او جمهوري رویو سابقه ډېره پخوانۍ ده، مونږ جرګې کړي دي، مونږ هر وخت د خلقو د رائې مطابق ملي رهبري ټاکلې ده، افغانان د ګاونډیو غوندي د شپې په اخر کښې د فوځي کودتا عادت نۀ لري. افغانانو ته استقلال چا په تالي کښې نۀ دے ورکړے. افغانستان خپل تاریخ لري، خپل شناخت لري، خپل ملي بېرغ او ملي سرود لري او خپله ملي شورا او سنا لري.

د افغانانو جمهوري رویو ته په پام سره مللِ متحد او نورې نړۍ د اوسنیو انتخاباتو په حقله خپل اطمینان ښودلے دے، لر وبر افغان په خپل سیاسي سېټ اپ کښې نور مذهبي انتهاء پسندي په عملي توګه رد کړې ده. په پښتونخوا کښې د اې این پي پارلیماني اکثریت دنیا ته د پښتنو د سیکولر ذهنیت پېغام ورکول وو او اوس په ازاد افغانستان کښې د دښمن ټولې هڅې شنډول او په انتخاباتو کښې په لوئے شمېر او لویه جذبه ګډون کول دنیا ته د افغان سوله غوښتونکې ملت حقیقت ثابتول دي.

دې انتخاباتو ته ټولې نړۍ سترګې نیولې وې او دا ئې د نړېوال سیاست په تناظر کښې یو مهم پړاؤ ګڼلو. خصوصاً د سیمئیز سیاست په حواله ددې انتخاباتو ژور اثرات مخې ته راتلے شي. د ترهګرۍ خلاف جنګ د ډرونز شکل خپل کړے دے، اوباما انتظامیې په دې حقله خپله سټرېټیجي اعلان کړې ده، د بلېنک چېک قیصه ختمه شوې

ده، اوباما وايي څوک چې د ترهګرو خلاف د جنګ په نوم ډالر وړي، هغوي به حساب هم راوړي. په دې حواله به د افغانستان نوے سياسي سېټ اپ د خپل کليدي رول په تناظر کښې خپل نوے پېش منظر ټاکي. ددې خبرې د وضاحت اړتيا نشته، اوس ټوله نړۍ ژوندي ثبوتونه لري چې د ترهګرۍ جرړې په افغانستان کښې نۀ بلکې په پاکستان کښې دي. ځکه نو په دې حواله به د نړۍ ټوله پاملرنه نور پاکستان ته وي. په دې حقله د محترم حامد کرزي دا خبره پر حقيقت مبني ده چې د ترهګرۍ خلاف جنګ په افغانستان کښې نۀ دے، دا جنګ د ترهګرۍ په ځالو کښې دے، په تربيتګاه کښې دے او د دوي د تمويل په ځائے کښې دے چې هغه له افغانستان نۀ بهر دے او په افغانستان کښې دايمي امن تر هغو پورې نۀ شي راتلے، تر څو چې په پاکستان کښې د ترهګرۍ ځالې له منځه يو نۀ وړل شي.

د نړېوال سياست په تناظر کښې قبايلي سيمې او پښتونخوا خصوصي اهميت لري. د پښتنو مسئلې اوس نړېوال حثيت خپل کړے دے، ځکه ئې نو په نړېوال تناظر کښې تجزيه پکار ده. په فاټا کښې سياسي ګوندونو ته د سياسي سرګرميو اجازت به يقيناً ژور اثرات ولري. خو نۀ غواړم چې د فاټا سياست دې د پاکستان په دود پارليماني شي بلکې دا د قامي کاز لپاره پر نظرياتي او ملي بنيادونو استوارول پکار دے.

د هېواد د بيا جوړوني (Reconstruction) پروسه نوره هم ګړندۍ کول پکار ده. په دې حقله له نړېوالې ټولنې سره د اړيکو ټينګښت ته پاملرنه ضروري ده. له دې سره جوخت د نړۍ په ګوټ ګوټ




کښې د مېشتو افغانانو د Rehabilitation لپاره په ټهوس بنياونو ګامونه اوچتول به هم د نوي پارليمان ترجيح ګرځول وي. خلقو ته روزګار ورکول د تخريبي سرګرميو د مخنيوي تر ټولو ښه لار ده. نړېوال ځواکونه په دې پابند ګڼل پکار دي، چې هغوي به يوائې د عسکرۍ دنده نه تر سره کوي بلکې د افغانستان په تعمير کښې به پوره ونډه تر سره کوي. د خلقو د رويو او روايتو درناوے به کوي او خلقو ته به د ژوند په لارو چارو کښې خنډ نه جوړېږي. د افغانستان د جمهوريت سايه داره ونه د بدمرغيو او برباديو ګرمي وهلي ملت د دمې لپاره يو ګور سېورے لري او هم د هډيرو او قبرونو اوسېدونکي ملت ته د ژوند مېوه ورکوي. ددې ونې ارزښت په دې کښې دے چې دا د فوځ په ټوپې کښې نه ده ولاړه بلکې د افغانانو د عوامي ژوند او ژواک په تنسته بوده کښې زرغونه ده.

څو چې دا زمکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دا جهان وي
څو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي


khanzamankakar.kakar@gmail.com